**لیکونکی :** **نعمان صدیق (Nauman Sadiq)**

**منبع او خپرېدونېټه : ګلوبال ریسرچ «01-02-2019 »**

**ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» .**

---

# پا کستا ن او د پښتنودحقونو دغورځنګ فرهنګی ایستلاء

## ***Pakistan and the cultural appropriation of Pashtun Rights movement***



***په تا ریخی لحاظ په کال (1971) په بنګله دیش کی قتل عام بیا تر دافغانی مجاهیدینو روزنه دافغان شوروی جګړه د (1980 ) او(1990) کلونو په اوږدوکی او د هغی څخه بیا وروسته دامریکی تر فشا ر لاندی دپا کستان دپوځ پواسطه سره په قبا یلی پښتون نشین برخو کی د ناوړی او بد سلوک نظامی عملیاتو په دترسره کولو سره ددی موجب وشو چی د هغه ځای څخه په میلیونو پښتون قبایل بی ځا یه شی نو په دی ډول ویلی شو چی دا یو ډول د یر نا درست اودستونزو سره ډک یو سیا ست وه چی د پا کستا ن پوځ په سیا ست کی مداخله وکړ یعنی چی ددی دپاره چي په پاکستان کی پاکستانیان دیو ملکی دولت دجوړیدو دپاره لاری آواره کړی نو داسی یوسرکش دولت یی رامینځته کړل چی نه یواځی په سیمه کی دسولی لپاره یو ستر ګواښ دی بلکه دخپله پاکستانیانو دپاره هم یو لوی تهد ید او ګواښ دي .***

پاکستان دخپل (80) کلن تا ریخ په موجود یت کی نیما یی وخت (څلوېښت) کا ل په مستقیم بڼی سره د پوځ تروا کمنی ا و دوم نیما یی یی د پردی له شا په تولو امنیتی او دولتی چا رو باندی د نظا می واکمنا نو تر څا رنی او کنترول لاندی اوسید لی دی .

دایوب خا ن دما رشا لی دواکمنی په دوران کی یعنی له (1958) تر(1969) کلونو

پوری کوم چی بنګا لیا نو سره دیو پردی په سترګو کتل کیده چی دهغه ددی ډول چلن پا یلی د بنګا ل یا د شرقی پا کستا ن د جدایی موجب وګرځید اوپه کال (1971) د **بنګله دیش** په نوم سره هیواد رامینځته شو .

د **جنرال ضیا والحق** د ما رشا لي د دویمی لسیزی په اوږدو کی د (1977) څخه تر (1988) کلونو پوري د پا کستا ن پوځ دافغان اودکشمیر دخلکو پر ضد جهادی ناراض ډلی تپلی مسلح کړ اوهغو ته د کرکی اود نفرت روزنه ورکړ اوبیا دمشرف دزمامداری یعنی د ما رشا لی په دریم دوران کی یعنی له (1990) څخه تر (2008) کلونو پوری د پا کستا ن د امنیتی تا سیسا تو لوړ پوړی مقا ما ت د امریکی دمتحده ایالاتو تر مستقیم فشا رلاندی خپل خیره بد له کړل اوهغه داچي د پا کستا ن پوځ په اصطلاح دپاکستا ن په قبا یلی پښتون نشین سیمو کی دجها دی ډلوپه وړاندی کوم چی مخکی دپاکستان داردو په مټ روزل شوی وه دجنګ اعلام ورکړ .

که څه هم په پاکستان کي اکثر سیا سیی مفسرین جنرال ضیاوالحق کوم چي هغه قبا یلی سیمی د جها دی جنګیا لیو په اختیار کی اچولی وه مسول ګڼی ، اما دا ډیر غلط نیوکی اوګوت څنډ نه دی چی یواځی دمسولیت پری دیو فرد پر غاړه یعنی پرضیا والحق باندی واچول شی ، حال داچی هغه د نورود نظریا تو او دکړنو قربا نی شو اوهغه داچي وروسته دجنرال ضیا والحق دترورڅخه په کال(1988) کی دپاکستان ټول نورو نظا می واکمنا نو اولوړپوړوچارواکو لکه **جنرال اسلم بیک** ، **آصف نواز**، **وحید کاکړ**، **جها نګیر**



ضیاوالحق

**کراما ت** تر **جنرال مشرف** پوری د جها دی ډلو ټپلو په روزنه کي د پا کستا ن د ګاونډی هیوادونوپرضد لکه افغا نستا ن ، هند وستا ن او د ایران په وړاندي د همغه د کترین څخه د (1980) او (1900) لسیزو پوری کا ر اخیستل .

د پا کستا ن دپوځ دپا لیسي اود هغه داستراتیژی په بیا له سره کتنه «تجدید نظر» پر امریکی با ندی د سپتمبر دمیاشتی د یولسم نیټی دیرغل نه وروسته رامینځته شو او هغه داچی د امریکی د متحده ایالاتو د با ند نیو چا رو د وزارت د وزیر مرستیا ل **ریچا رد ارمیتا ژ** (Richard Armitag) د **بوش** د زما مد ا ری په وخت کی په پا کستان کی د جنرال مشرف سره په دیدارکی هغه ته دخپل تند وخبرو په کولوسره داسی اخطاروړکړ : **( که پاکستان د طا لبا نو د ملاتړ څخه لاس وانخلی ، مونږ پا کستا ن بیرته د تیګی (stone) دوری ته به واستوو.).**

نو په دی ترتیب سره به دغه سیمه کي دغه اسلامی بنسټ پا لنه اویا نظا می جګړه ما ری ته مخه ورکول یواځي دیوسړی یا دیو فرد کا ر نه وه بلکه دا دیو سرکش نـها د یا دیو نظام یو محتا طا نه نظا می دریځ یا دکترین وه .

پوځی ذهنیت ، پوځی روزنه ، سا زما نی یا نـها دی منطق یو نظامی اوتهاجمی تګ لاری دی کوم چی د بهرنیو چا رو اودامنیت پوری اړوند مسلو داجراء تو دپا ره حکم ورکوی یا اړوند و مقا ما تو ته خپل آوامر د یکته کوي نو له همدی امله دپوځ داصولو په نظر کی نیولو سره پوځ با ید د دولت دتصمیم نیونوکو ارګا نونو څخه فاصله یا واټن ونیسی.

په هرصورت ایا دا پخپله دحیرانتیا خبره نه دی کوم چي دڅو تیرو کلونو په جریان کی دوه ډول بغا وت یا شورش په پا کستا ن کی ترسره شو ، دبلوچانو پاڅون دبلوچستان په ولایت کی اوبل شورش یا دخلکو بغاوت په قبایلی پښتون نشین یعنی دخیبر د پښتونخواه دامریکی تر اشغا ل ا فغا نستا ن پولی ته نژدی ترسره شو.

دیا دونـی وړ مطلب داچی دپاکستا ن نیولیبرال نخبګا نو د بلوچ دغملړلی ملی ګرایا نو دځپلو سره ټول له یوسره موافق دی ، اما کله چی دقبا یلی سیمو د پښتنو موضوع ته را رسی نو هغوی دپاکستان امنیتی ځواکونو ته دپښتنو د شورشیانو د بیخی له مینځه وړلو اجازه ورکوی ، نو دا ولی ؟ دا ځکه چي دقبایلی سیمی بلواګران دخپل غریزوی اوذاتی احساس په لرلو سره خپل قبا یلی سیمی خلکو ته داسلام تر سیوری لاندی جزاورکوی یعنی چی اسلام دیو افزار یا دیو وسیلی په بڼه په کا روړی .

په هرصورت داسلام تر چتر لاندی دخلکو تکفیر کول د نیولیبرا لستا نو داحسا سا تو مرکزی برخه جوړوی ، اوهغه داچی نخبګا ن ځا نته زحمت نه ورکوی چی د بلواګرو یا دبلواګری درامیینځته کید و پرعواملو اویا دلایلو باندی ژور فکروکړی اوبیا په لنډ دول پریکړی وکړی مګرهغوی په بی پروایی سره د پښتنو دقبا یلو قبیله د طا لبا نو دغملړی اوکرکجن نښی اوعلامی « label » یا په نا درست بڼی سره پر هغو دطالبانو په ټاپه وهلو سره کا راخلی کوم چی دهغو سره د همد ردی ارزش هم نه لری ، چي په دی ترتیب سره یو امنیتی مرکز په ناڅاپی بڼی سره دپښتنو دسیمو په ښارونو ،کلیو اوبانډو کی بمونه غورځوی.

## په پاکستان کي دترهګرۍ اودتروریزم پر وړاندې بغاوت :

پوه اوډيربا خبر ښه لوستونکو با يد ځا ن وپوهوی يا داچي پوهیږی اوهغه داچي له کا ل (2009) څخه لاتراوسه د پاکستا ن په قبا یلی سیمو کی نظا می عملیات دوام لری اما دغه عملیات د هغه پر قا نون باندی ولاړ عملیات چی دکراچي دبندری ښا رپه سهیلی برخه کی تر سره شو ډير زيا ت فرق او توپیر لری يعنی دا يو ډول بشپړ او کاملاً يو عيارجګړه دی نه د نظا می قا نون سره سم نظا می عملیات- سرحدی پوځیان ، بلواګران له هرطرفه کلا بند کوی اودهغو سیمو میشته کلیوالی خلک دی ته اړ با سی چی له خپلو کورونو څخه هری خواته وتښتی او ځا ن ګوښه کړي نو وروسته له هغه د پوځ هوايی ځواکونو دهغوپه کلو ،بازارونو اوبا ندو با ندی درونو هوایی بریدونه تر سره کوی اوبیا وروسته د بمب ګذاری څخه د پوځ سرتيری او نور منسوبين د وران کړل شوی سیمی کلی او کورونوته ېلی کيږی زخمیا ن او مړی راټولوی .

دغه درونو هوايی بمی حملی دقبایلو په سیمو کی له څو کالو راهیسی دوام لری کوم چی دهمدی بمی حملی له کبله دهغو خلکو کورونه اودهغو کا لی ، شتمنی اوهرڅه چي لرل ټول په اورکی وسوځيد خپل عزيزان ، خپلوان اومتعلقين دلاسه ورکړل او هغو د مجبوريت له مخی د پيښور ، مردان او د با نو په سیمو کی د مها جرينو کمپونو کی د بی ځا يه شوی خلکو په څير شپی اوورځی سبا کوی لکه همغسی عملياتونه کوم چي په کا ل (2009) نظامی عملیات په سوات اوبيا په جنوبی وزیرستان کی تر سره شو او بيا په دی نژدی وختونو یعنی په کا ل (2014) کی ورته نظامی عملیات په شمالی وزير ستان کی وشو چی دهغه په ترڅ کی ډيرو ومړ او زيات خلک ټپيان او له خپلو کورونو څخه بی ځا يه شول .

په دی ورځو يا دتاريخ په دی پړاو کی پښتون قوم ډير ناهيلی او بد مرغه ملت يا خلک دی اوداځکه چي هيڅوک لاتراوسه هغوی ښه نه دی پيژند لی اويا هيڅوک حتی نه مذهبی اونه هم کوم قومی پيژندلی شوی څيره چی دهغوی استازيتوب وکړی نه تر سترګو کيږي .په ا فغا نستا ن کي پښتا نه دامريکی دمتحده ايالاتو دګوډاګیانو لکه حامد «کرزی» اواشرف«غنی» اوپه پاکستان کي ملتپال عوامی نيشنل ګوند(ANP) دقربانی کا رت لوبوی اوپه ډير بی وزلی کی دسولی ميند لو سره مينه لری اودسولی په هڅه کی دي .

په هر صورت نن په پاکستان کي پښتانه نور ديو اوږدی مودی لپاره د کوم پيژندل شوی سيا سيی اداری يا سازمان له خوا استا زی توب نه کيږی يعنی کوم نها د يا اداره نشته چی د پښتنوڅخه وکا لت يا نما يند ګی وکړي .يو حقيقت کوم چی د وروستيو عمومي پارلما نی ټولټا کنو څخه را وروسته روښا نه شوی هغه دادی چی دعوامی نيشنل ګوند پوری تړلی غړی درسمی سيا سی موقف څخه دبا ندی ايستل شوی ياداچی

جاړو او بی برخه شوی دي .
اوس سمد ستی په پاکستان کی لږ ترلږه دری بیلا بیل کتګوری پښتا نه وجود لري :
**لمړی:** هغه پښتانه چی دخان عبدالغفارخان خدایی خد متګا ر لاره او روش تعقیبوی چی ډیری دهغو دچارسدی اودمردان داولسوالیو په سیمو کی ژوندکوی او پوستي لری .
**دوم :** دین پلو اسلامی پښتا نه چی دخیبرپښتونخواه په سهیلي ایالت کی میشته دی دغه اسلامی ګوندونه لکه جمیعت اسلامی او جمیعا علمای اسلامی ګوندونه دی .
**دریم** هغه پښتا نه کوم چی هغوی نوی سررا پورته کړي دي لکه د پا کستا ن نیشنلیست پښتا نه :چي ډیری دهغو په دی وختونو کی دعمرا نخان ( د پاکستا ن تحریک انصا ف ) ګوند سره یوځای شوی سره دهعه چی دهغو یو څه نور برخی د نواز شریف دپا کستا ن دمسلم لیګ ګوند سره نوم لیکنه کړی دي .
دذکر مطلب داچي په پاکستان کي په کال (2013) او (2018) عمومی انتخا با تو کي یو مسله تر بحث او غور لاندی ونیول شو او هغه داچی د پا کستا ن مشا رکت یا ګډ ون دامریکی سره دتروریزم پرضد جګړه کی چی دهمدی مسلی په نتیجه کي د پښتنو له قبایلي سیموڅخه کوم چی دهغو په سیمو کی پاکستا نی پوځ په عملیا تو لاس پوری کړل په میلیونو پښتانه له خپلو سیمو او کورونو څخه بی ځایه شول او د بلی خوا څخه نیشنل عوامی پارتی په اصطلاح سره وتښتول شو اوداځکه چی هغوی په اصطلاح دلیبرال مداخله ګرانو دنظامی عملیا تو چی پر اسلامی ترهګرو پښتنو پرضد پیل کړل هغوی ددی نظامی عملیات په مقا بل کی ودرید .
بل مطلب داچي د خیبر دپښتونخواه هغه تازه وارد پښتنو چی دعمرا خان دپارتی سره په دی وختونو کی یوځای شوی یعنی ددی حزب غړیتوب تر لاسه کړی دی د سیا سیی له ا ړخه عمران خا ن ته پوره واک ورکړی چی د پښتنو په سیمو کی د ترهګرو سره دمذاکری اودپخلا ینی د لاری موجوده شخړی حل وفصل کړي .



عمران خان

سره له هغه چي دواړو یعنی هم عمران خان اوهم نواز شریف خپل دانتخا با تی دوری په موده کي تعهد سپارلی وه چی هغوی به دترهګرو اومذهبی افراطیانو دګواښ د مینځه وړلو د پاره په مسالمت آمیز بنی سره برخورد به وکړی کوم چی هغوی یوه هم

په دی بری نشو اوداځکه چی په قبا یلی سیمو کی د نظا می عملیا ت دترسره کولو په وړاندي خلک ډ یر ژور اوسخت حسا سیت لرل .

بی ویلودی پا تی نشی اوهغه داچي په دوو تیرو پارلما نی ټولټا کنو کی کوم چي دهغه په ترڅ کي دا فغا نستا ن – پاکستا ن په سیمو کي دامریکی تر رهبری لاندی دترهګرو سره په جګړه کی دپا کستا ن پر ګډون باندی یو ټول پوښتنی (رفرندم) هم ترسره شو چی په دي رفرند م کی پښتا نه رای ورکونکو سولی پلو سیا سیی ګوندونو ته د جنګو پلو ګوندونولکه د پاکستا ن د خلکوګوند (ppp) اوعوامی نیشنل ګوند (ANP) په ضد رای ورکړل .

وروسته له هغه چي عوامی نیشنل ګوند (ANP) په کا ل (2013) دعمومی ټولټاکني په جریان کي دعمران خان دپاکستان د تحریک انصا ف ګوند پوا سطه سره برمته شوی وه یعنی چی عمراخا ن سره یوځای شوی وه نو اوس په دی وروستیو کی دغه خلک یو نوی غورځنګ د **پښتنو د حقونو د تحفظ دغورځګ** ترسرلیک لاندی سر را پورته کړي دي چی ددی نوی غورځنګ په رهبری کی سربیره د منظور پښتون ( Manzoor Pashtun) اودهغه سره نژدی ملګری نور ټول د نیشنل پارټی(NP) فعالین شامل دي.

آیا داپخپله دحیرانتیا خبره نه دي کوم چي همغو سیاسیی ځواکونه چي مخکي دپښتنو په قبا یلی سیمو کی پاکستان را هڅول چی دترهګرو په وړاند نظا می عملیا تونه تر سره کړي لکه چی دهمغو نظا می عملیا تونو په ترسره کولوسره په ملیونو خلک له خپل کور، ښا ر او کلی څخه بی ځا یه او تیت پیت شول ، ا وس همدغو سیا سی ځواکونو د قبا یلود سیمی د پښتنو دحقونو څخه خپل ملاتړاعلانوي؟ یعنی هغه وخت چی د پاکستان پوځ په غیر قا نوی توګه سره دقبا یلی سیمی کلی ، ښا رونه او هستوګن ځایونه بمبارد کول نودپاکستان دخلکو ګوند (ppp) اونیشنل عوامی ګوند(ANP) دامریکی اودپاکستان تر فشارلاندی دتروریزم پرضد جګړه کی خپل ملاتړ اعلان کړل اما اوس غواړی چی پښتانه کوم چی دامنیتی ځواکونوپواسطه سره نیول کیږی بیرته دی آزادکړل شی دقبایلی سیموڅخه ټول ښخ کړل شوی مینونه وویستل شی او همدا شانته له نوموړی سیمی یعنی دخیبر پښتونخواه له منطقو څخه ټول امنیتی پوستی لیری او کوم بل ځای ته ویوړل شي .

په پای کی اوس د پا کستا ن په سیا سی او ټولنیزمحیط یا عرصه کی دری ډول مهم سیاسیی قوتونه ترسترګو کیږي . (اول) مسلط اسلامی نا سیونا لستا ن (دوم) قومی ژبنی ملی ګرایان یا ناسیونالیستان او (دریم) نیولیبرالی نخبګا ن . ا سلامی مسلط ملی ګرایان دفرهنګ اویا دکلتور له اړخه قومی ژبنی ملی ګرایا نو ته ډ یر نژدی والی لری اما د سیا سیی له پلوه دجنګی یا دجګړیزمکرر قوانینو اود نظا می د یکتا توری د دلایلو په نظر کی نیولو سره د قومی ناسیونا لستا نو له مرکزی حوزی څخه په تیښته کی دي کوم چی وروستی یا دومی ډلی یوی خواته ګوښه شوی دي .

لکه همغسی چي پوهیږو خبره اوس دادی چي په پاکستان کي عمده سیا سیی لوبه

*د ا تحا د یی جوړول دي نو دهمدی اصل په نظر کی نیولو سره د پاکستا ن نیولیبرالی نخبګا ن دقومی ژبني ملی ګرایا نود شیطان صفت رهبرانو دجذ بولو په لټه کي دي چي دهغوی سره متحد شي . اما دغه اتحاد په واقیعت کی یوسیا سیی ساده ازدواج (واده ) دي اوداځکه چي دغه دواړه سیا سیی ډ لي دفرهنګی مخو له لحا ظه سره هیڅ اړیکی اویا نژدی والی نه لری ، اسلامی نا سیونا لستا ن اوژبنی قومی ملی ګرایا ن په ټولنه کی یو اجتماعی طبقه شمیرل کیږی چی دمد وجذر په پام کی نیولو سره یا په یو اویا بل شکل سره له مینځه ځي حال داچی بورژوازی کمپرادور خا رجی قوتونه اومرستی ته ضرورت لری .*

*هغه څه چي دویلو دی هغه دادي چی رهبری یا دیو ټولني مشرتوب یو دوطرفه سړک (واټ) دی اوداسی په نظر راځی چی یوپیشوا دسالم قضاوت په لرلو سره ګڼ خلک اویا خپل پلویانو ته لارښونه کوي اودغه رهبر په عین زما ن کي با ید چی د بیوزلو پرګنو اویا دخلکو دګټو دتامین کولو په اړه هم خپل استازیتوب هیر نکړي - اما له خلکو څخه بیل ، مستقل او تنګ نظر کوم چی په یوه خیا لی عجیب وغریب نړی کی ژوند ولری اوونشی کړلی چی د ګڼ پرګنو ذهنیت اودهغو غوښتنی درک کړی نو هرومرو زر اویا وروسته خپل مشری دلاسه ورکوي اوپه یوعادی سړی باندی اوړی .*

***دلیکونکی په اړه څو کرښی**: **نعما ن صد یق** په اسلام آبا د کی یوه میشته وکیل مدافع ، دافغانستان – پاکستان دسیمی ، مینځنی ختیځ ، دنیوکلونیا لیزم اودپطرو امپریالیزم یو متمرکز ژیو پولیتیکی تحلیل کونکی کا رپوه دي هغه په نړیوال مسا یلو با ندی هم لیکنی کوي .*

---------------------------------- ***په درناوی «2019-02-07»***